# د محمد حنيف قېس د شعري مجموعې "چغجۍ" اسلوبياتي جاج

# The stylistic analysis of Hanif Qais's poetic work *Chaghjai*

Issn 2304-1463

Atta Ur Rahman Atta*

Ihsanullah Yousafzai *

**Abstract:**

It is the Style that reflects the imaginative prowess and psychological traits of one's personality and renders coherent richness and elegance to a writer's creative work.

Stylistics has been introduced in the contemporary criticism that particularly focuses on the study of literature by drawing on theories and ideas from the study of language and provides insights into the structures, functions and syntax employed by the writer. This also provides ample ground to the critic to analyze the literary piece of art and arrive at the correct appraisal. A writer evolves a style over the years that is inimitable and becomes peculiar to that writer. For this, the writer uses, deliberately or otherwise, linguistic expressions and syntactical structures that eventually become his signature literary style. Muhammad Hanif Qais is one of those poets who, by doing so, has evolved a peculiar style of his own, different from his peers. This article effects the stylistic analysis of Qais's work *Chaghjai*. The study derives Objective findings, keeping in view the theory of stylistics.

**Key Words:**

Style, Stylistics, Muhammad Hanif Qais, Chaghjai, Stylistically.

---

* Assistant Professor of Pahsto Govt. P.G Jahanzeb College Saidu Sharif Swat

* Ph.D Research Scholar Pashto Academy University of Peshawar

د قدرت په نظام کښې په هر قدم او هر لمحه، په هر ډګر او هره شعبه کښې رنګارنګي، ځانګړتیا او تنوع موجود دے. دغه رنګارنګي او تنوع چرته ډېر ښکاره او واضحه په نظر راځي او چرته لږ تت تت او کم کم خو موجود ضرور وي، چرته ئې مونږ په اسانه مشاهده کولے شو او چرته ورته د ځیر کېدو ضرورت وي خو دغه تنوع په اصل کښې د ځیزونو پېژندګلو او شناخت جوړېږي او هم دغه تنوع او رنګارنګي د انسان او د دې نظام په ګټه کښې ده. لکه چې د انسانانو په مزاجونو کښې تنوع او اختلاف وي. دغه رنګ د هغوي په جسماني ساخت کښې وي. څوک دنګ لوړ، څوک مندرے او څوک چیت وي. څوک غټ پټ، څوک نرے نروچکے وي، د چا پوزه وړده، د چا لنډه او د چا چپړیته وي. دغه رنګ په نورو جسماني اعضاؤ لکه خُلۀ، غوږونو، مرۍ، لاسونو، ګوتو، پښو، مخ، شونډو کښې دغه فرق او تنوع مونږ په اسانه مشاهده کولے شو او بیا مونږ په دې هم پوهېږو چې دا تنوع زمونږ پېژندګرلو او شناخت هم جوړېږي. لکه چې مونږ د چا د مخصوص کولو په غرض وایو چې څوک؟ هغه ګونجه سرے؟ دغه جسماني ځانګړتیا د یو مخصوص تن او فرد پېژندګلو ګرځي. د دې په مقابله کښې د مزاجونو او نفسیاتو اختلاف او رنګارنګي لږه په ګرانه مشاهده کېدے شي. هم دغه رنګ اختلاف، رنګارنګي او تنوع زمونږ د خبرو کولو، وېنا او بیان په انداز کښې موجوده ده چې د پوهېدو لپاره ورته د لږ زیات پام کولو ضرورت وي. ځکه چې دا قسمه عوامل کوم مادي وجود نۀ لري خو که مونږ لږ فکر وکړو نو په دې پوهېدل هم ګران نۀ دي چې زمونږ په خبرو کښې، د خبرو په انداز کښې او د لفظونو په چوڼ او چاڼ کښې ښکاره او واضحه ځانګړتیا موجوده ده. د دې سره مونږ دا هم مشاهده کولے شو. چې فلانے د خپلو خبرو په دوران کښې د کومو کومو لفظونو زیات او پرله پسې په کارونه کوي. او د وېنا انداز ئې د نورو خلقو نه څنګه ځانګړے دے. او کله کله د یو انسان په خبرو کښې دغه لفظونه دومره زیات شي چې دغه انداز د هغه پېژندګلو وګرځي. په تمهید کښې د دغه عامو مثالونو او خبرو د راوړلو مقصد مې د "اسلوب" په اصطلاح د پوهېدو په غرض اساني پېدا کول دي. که څۀ هم د اسلوبیاتو مېدان د علم جدا مېدان دے. او پوهېدل پرې دومره اسان نۀ دي خو

په اخر الذکر کښې د خبرو او وېنا مثالونه او د هغې ځانګړتيا او بيا د يو کس پېژندګلو ګرځېدل د اسلوب د اصطلاح تعريف ته ډېر نزدې دي.

دا خبره خو مسلمه ده چې شاعر او اديب سره د خپل پېغام د خورولو او د خلقو د متاثره کولو وسيله د هغه لفظونو او انداز بيان وي هم په دغه وسيله ليکوال خپل مشاهدات، تجربات او جذبات او احساسات عام اولس ته رسوي او هغوي متاثره کوي. د هر ليکوال د وېنا انداز او د لفظونو چوڼ د هغه د نفسياتو، ماحول، ادبي روايت او ټولنې تابع وي. هم د دغه محرکاتو په رڼا کښې يو ليکوال د لفظونو، ترکيبونو، استعارو، تشبيهاتو، محاورو، متلونو او جملو چوڼ او چاڼ کوي او هم دغه د هغه مخصوصه پېژندګلو او شناخت جوړېږي خو په دغه چوڼ او چاڼ کښې دومره زيار، مهارت، هنرمندي او استکاري ضرورې ده چې يو ځانګړے رنګ او جدا سليقه ولري او هم دغه ځانګړي رنګ، انداز، طرز او سليقې ته مونږ په ډېرو عامو لفظونو او ساده اواسانو ټکو کښې اسلوب وئيلے شو.دغه د اسلوب ډېر ساده او اسان تعريف او ډېر عاميانه تصور دے.

په معاصر نړيوال ادب کښې لفظ پېژندنه په خپل ځان کښې ګڼ شمېر نفسياتي، تهذيبي او ټولنيز پرتونه لري. او هم دغه وجه ده چې په ادب کښې يو جدا مضمون د اسلوبيات يا "Stylistics"په نوم معارفي شوے چې د دغه لارې د ادبي فنپارو تجزيه وکړي او قدر او درجه ئې وټاکي.

> د اسلوب د پاره په انګرېزۍ کښې لفظ "Style" استعمال شوے دے. په يوناني ژبه کښې ورته ستائيلاس "Stylos"او په يونانۍ کښې ورته ستائلس "Stylus" وئيلے شي. 1

د انسائيکلوپېډيا برټانيکا تر مخې دغه لاطيني لفظ دے چې معاني ئې د ليکلو طريقه کار، د ليکلو قلم، تېز چلېدونکے قلم، او د ليکلو نوکداره اله دي. په عربۍ ژبه کښې اسلوب د "سلب" نه مشتق دے. لکه چې ضرب، يضرب، چې معني ئې ده دهاتونه ويلې کول او په قالب کښې ئې اچول. په فارسۍ ژبه کښې هم په دغه طرز د اسلوب لپاره د سبک لفظ کارولے کېږي. سبک،

یسبک چې مطلب ئې هم دهاتونه ویلې کول او د زوائدو نه پاکول دي. په پښتو کښې عموماً د اسلوب او سبک دواړه اصطلاحات مستعمل دي. په "پښتو تشریحي قاموس" کښې د اسلوب معانې مېتود ،طریقه،طرز او ترتیب ورکړے شوي دي2.په پښتو لغت "درياب" کښې د اسلوب معانې انځور، طرز او طریقه درج دي3.

چونکې په معیاري اسلوب کښې هم دغه د پاکولو عمل د لفظونو سره کېږي نو ځکه ورته دغه اصطلاح په کارول مناسب دي. په دغه بنیاد مونږ د اسلوب تعریف داسې کولے شو. چې د یو لیکوال او وېنا کوونکي یا یوې ادبي ډلې یا ادبي دور د اظهار ځانګړې طریقه او تخلیقي ضابطه چې په کښې د وضاحت، تاثیر او حسن وغېره اجزاء موجود وي اسلوب بللے شي. دلته صرف دومره وضاحت ضروري دے چې د اسلوب په کارونه فقط د لیکلو د طرز د پاره نۀ کېږي بلکې دا په نورو زېبا هنرونو کښې هم کارول کېږي او هم د دغه خاطره ډاکټر رابعه سرفراز په خپل کتاب "اقبال کاشعري اسلوب" کښې د اسلوب تعریف داسې کوي:

> **"اسلوب تخلیق کا وہ قرینہ ہے جس سے فنکار اپنے موضوع کی گہرائی میں اتر کر موضوع کا جائزہ لیتا ہے۔ یہ اظہار کا معجزہ اور بات کہنے کا ڈھنگ ہے"4**

د اسلوب د پاره د ځلورو خبرو یا شرطونو خیال ساتل ډېر ضروري وي ځکه چې د دې نه بغېر د اسلوب تشکیل او ځانګړتیا ناممکنه وي. دغه ځلور خبرې یا شرطونه دا دي:

**1.** ژبنیز چوڼ /انتخاب:

د دې مطلب دا دے چې چونکې اسلوب د لسانیاتو یا ژبپوهنې سره ژور تړون لري چې پکښې صوتیات، لفظیات، نحویات او معنویات شامل دي په دغې کښې یو تخلیق کار څنګه د خپل اظهار لپاره چوڼ کوي او خپل اظهار ځانګړے کوي.

**2.** د عمومیت نه ډډه کول:

یعني چې یو تخلیق کار د اظهار داسې پیرایه خپله کړي چې هغه عامه نهٔ وي دلته دا وضاحت ضروري دے د عمومیت نه ډېر کول مطلب دا هرګز نهٔ دے چې یو لیکوال به عمومي لفظونه یا ترکیبونه نهٔ کاروي د دې مطلب دا دے چې د دغه لفظونو او ترکیبونو کارونه به په داسې انداز وي چې د عمومیت نه به ځانګړې وي.

**3.** موثر اظهار:

د دې مطلب دا دے چې د کوم تاثر راپارولو لپاره لیکوال تخلیق کوي نو د هغه انداز بیان به هم هغه تاثر راپېدا کوي او ظاهره ده چې د دې لپاره به د ژبې سمه کارونه او د لفظونو هنرمندانه استعمال ضروري وي.

**4.** غېر معمولي ژبنیز استعمال:

د دې مطلب دا دے چې د ژبې داسې استعمال وکړے شي چې هغه په خپله ګواهي ورکوي چې د ژبې او ژبنیزو عواملو دا کارونه ډېره غېر معمولي ده دلته زهٔ د رحمت شاه سائیل دا شعر د مثال په توګه راوړل ضروري ګنم.

لکـــه شـــبنم مـــې لـــږ د خپـــل مـــخ پـــه ګـــلاب پرېـــږده
مـــا ډوبېـــدو تـــه د رنګونـــو پـــه دریـــاب پرېـــږده

په دغه یو شعر کښې بره ذکر شوي څلور واړه عناصر موجود دي چې د اسلوب په تشکیل کښې د بنیاد حېثیت لري.

په بنیادي توګه اسلوب د یو تخلیق کار شخصي صفت دے او چې کله د اسلوب تشکیل پوره شي نو بیا د تخلیقکار د شخصیت حصه او ائینه هم جوړه شي. او هم دغه وجه ده چې د انګرېزۍ ژبې لیکوال ایمرسن وائي:

"A man style is his minds voice"5

د سړي اسلوب د هغه د ذهن اواز دے او ډاکټر بوفان وائي چې د مصنف شخصیت د خپلو لوړو ژورو او رنګ او اهنګ سره په لفظونو کښې منتقل کېږي. او دغه خبره په نورو لفظونو کښې شوپنهار داسې کوي چې د باطن خارجي تصویر اسلوب دے. په اسلوب کښې د لفظونو د چوڼ او چاڼ معامله تر ټولو بنیادي ده. ځکه چې په کلام کښې فصاحت و بلاغت، سلاست، تاثر او زړهٔ رانښکون د لفظونو د موزون او مناسب چوڼ نه بغېر نهٔ شي پېدا کېدے. ځکه خو سویفټ وائي چې د اسلوب تعریف دا دے چې “Proper Words in proper place”6 محمد حنیف قېس د پښتو په استاذانو شاعرانو کښې شمار دے چې په خپل ټول ژوند کښې ئې د شعر سره خپله رشته کلکه او ژوره ساتلې ده. حنیف قېس د سوات په ګل ګل فضاګانو کښې پېدا شوے دے. رالوے شوے دے، ځوان شوے دے او دا دے اوس د عمر په داسې پوړۍ ولاړ دے چې مونږ ورته مشر وایو. په خپل دغه سفر کښې هغهٔ د سوات د ښکلا، ګلونو، رنګونو، مارغانو، چیینو، چینارونو، واورو، شینکو، ابشارونو، باغونو، سپرلو، مېوو، ګلونو، وږمو، هواګانو، پولو، پټو، خوراکونو، ځنګلونو،ونو، بوټو، ساګونو، فصلونو او موسمونو دومره ژوره مشاهده کړې ده چې دغه ټول څیزونه د هغهٔ په شعور او لاشعور داسې نقش شوي دي چې هغهٔ کله هم خبره کوي نو په یوه یا بله حواله دغه مذکوره څیزونه او دغه لفظونه د هغهٔ د خُلې نه راوځي او بیا مونږ ته دا هم پته ده چې په اصلي تخلیقي عمل کښې لفظونه په لاشعوري توګه د شاعر په ژبه راځي. نو کله چې قېس شعر لیکلے دے نو هم د هغهٔ د چاپېریال دغه څیزونه په لا شعوري توګه د هغهٔ په اسلوب کښې په دومره پرله پورې توګه ځاے شوي دي چې که هغهٔ ورته پام کړے وي او که نهٔ خو دغه لفظونه د هغهٔ د اسلوب ځانګړتیا ګرځېدلې ده او که څوک په غور دې اړخ ته پام وکړي هغهٔ د هغهٔ د اسلوب نه پېژندے شي. دا د هغهٔ کمال دے ځکه چې شاعران ډېر ګڼ وي خو صاحب اسلوب شاعران ډېر کم وي.

حنیف قېس په خپل کتاب "چغچۍ" کښې چې ټول په**200** مخونو مشتمل دے د ګلاب، ګل او ګلونه لفظ **131** ځله کارولي دي او دغه په کارونه په دومره هنرمندۍ او فنکارۍ سره شوې ده چې د هغهٔ د اسلوب ځانګړتیا په کښې ښکاره ده. د دې سره سم د غوټۍ، ګل غوټۍ، غنچې

لفظ د دغه شمار نه علاوه دے او د ګلونو قسمونه لکه، لالا، ریدے، نرګس، غانټول، کشمالے او کماچو هم د دغه شمار نه علاوه دي.

په زلفو کښې چې ګل ږدي نو هغه هم د ګلاب
یو نخښه دوه د ځان سره ساتي د ځان په شان7

څه خو به وه پکښې قصه د ګلاب
چې مې دنیا شوه له غزله پوهه8

دوي لا نه ګل پېژني نه لا نزاکت د ګلاب
قیسه دا څوک چې درته وائي ګلان پرېږده مړه9

بیا به ګلاب نه وي خو ګل به وي یا ګل کاغذي
که را ازاد شو د ازغو له دائرې نه ګلاب10

ستا غانټول ځواني
زما ژوند سپرلے
ستا په مخ خالونه تور
زما زړۀ ربړ دے ربړ دے11

د قیس د اسلوب نه دغه ټول مثالونه دلته ذکر کړان دي ځکه چې د هغۀ د اسلوب د نورو ځانګړتیاؤ ذکر هم مهم دے. د دې نه علاوه د باغ، چمن، سپرلي، بهار، وږمو، خوشبویو ذکر هم

په ډېر تسلسل سره په "چغجې" کښې موجود دے او دغه لفظونه چې د ګل او ګلاب سره نزدې تعلق لري یا د یوې سلسلې لفظونه دي د هغۀ په اسلوب کښې دغه سلسله نوره هم سېوا کوي او داسې ښکاري چې د هغۀ په فن او فکر هم د دغه سلسلې رنګونه خوارۀ وارۀ دي لکه د سپرلي ذکر په دغه مجموعه کښې نولس ځله شوے دے دغه رنګ که په دغه سلسله کښې مونږ پرخه، لولکۍ او پرپرکي لفظونه هم شامل کړو نو د دغه رنګ لفظونو شمېره نوره هم سېوا کېږي او د ښاغلي شاعر په اسلوب کښې د دغه رنګونو داسې امتزاج جوړوي چې لکه د بوډۍ د ټال د جمال استعاره شي او د فن د جمالیاتي حظ او جذباتي زور تاثیر تکمیل ته ورسي او د رنګونو داسې مجموعه جوړه وي چې هر رنګ پکښې په داسې مقدار، تناسب او توازون ګډ شوے وي چې د یو بل نه ئې جدا کېدل ناممکنه وي ځکه چې ښاغلے حنیف قېس د رنګونو په اهمیت هم پوهه دے او د هغې په مناسب او متوازن ګډون هم. ځکه خو هغۀ د دغه رنګ او رنګونو په کارونه خپل اسلوب داسې رنګین کړے دے چې د رنګونو سپرلي ترې رابرڅېره کېږي او فقط د رنګ او رنګینو او یا رنګونو لفظ په دغه کتاب کښې 26 ځله په کارولے شوے دے، سپین، تور، سور، شین، زیړ او ګلابي لفظونه د دغه شمېر نه علاوه دي او مونږ اندازه لګولے شو چې هغۀ په دغه رنګونو کښې خپل اسلوب څومره رنګین کړے دے.

یــــو ځـــل بـــه پـــه تـــا زېـــرے د ســـپرلو کوومـــه ښـــه
خزانـــه کـــه هـــر څـــومره د ســـپرلو نـــه مـــې ســـاتې12

د ښائســـــت د ښـــــار رنګونــــو دې ګـــــډوډ کـــــړم
ووم راغلـــے د ســـاده ځـــوانۍ لـــه غـــرۀ نـــه13

لولکو مې پرېښو باغ د سپينې ږيرې
ګل چې مړاوے شي لولکې ځي هغې نه**14**

په ډېر امېد دې د رنګونو تر بازاره راغلم
تا راله داسې سودا راکړه په سودا به ځمه**15**

د حسن د رنګونو ترجمان زما جانان
د ګل د نازکۍ د خلې بيان زما جانان**16**

او دې کړي الوت تهٔ ئې په زور په لاس کښې مهٔ نيسه
پېغلې لولکۍ په دومره زور په لاس کښې مهٔ نيسه**17**

ما لکه ګل ځکه خندل بېګا
څوک لکه پرښه وربېدل بېګا
رنګ مې نخښتے دے په برېتو پورې
ما پرپرکې ښکلول بېګا**18**

حنيف قېس د دغه ذکر شوو جمالياتي دائرو په تکميل کښې د فطرت د رنګ سره د فطرت خوند هم ملګرے کړے دے او د جمال داسې مکمل معيار ئې خوندي کړے دے چې په جذباتي تاثر کښې خپله ثاني نهٔ لري. د سوات د خوندونو دغه ادراک د قېس په اسلوب کښې د بېلا بېله علاقائي مېوۀ د ذکر په صورت کښې موجود دے چې د هغهٔ د اسلوب د ځانګړتيا او پېژندګلوتر

ټولو مظبوطه وسیله او زور اوره حواله ده. په دغه لړ کښې د قېس په اسلوب کښې د مڼو، شلتالانو، کور، کورو، خوبانو، بګنو، ګورګورو، مارورنګ، ګبین، چغجې لفظونه د هغۀ د اسلوب د تشکیل او ځانګړتیا د پاره یو اځې هم کافي دي.

سـوا ته سـتا د اوړي غېـر د مېـوؤ ډکـه
خـو سـتا ژمـي کښـې جـدا خـوارۀ پراتـۀ دي19

مـونږ خـوړلي دي کـوري
مـونږ خـوړلي دي خونـان
زمـونږ شـونډې شـوې ودي
یـو رنـګ بنـګ مـا او جانـان
چګنـې شـوه چګنـې، زۀ قـېس شـومه چنګـنې20

راځـه کـه پشـکال کښـې خونـد د غـرۀ د میـوؤ ګـورې
راځـه زمـونږ د غرونـو کـوري تـور کورونـه تـور دي21

د سـوات د هـر موسـم مېـوه سـوغات دي خـو ملګـرو
چغجـې د ګبینـه سـره خـوړل ئـې عجیبـه دي22

وۀ زړۀ کښـې شـرارت سـتا د سـرو شـونډو تورولـو
مـا راوړۀ د کـرورو، بګنـو نـه جـولې ډکـه23

د دې تر څنګ د قېس په اسلوب کښې د نورو علاقائي جمالياتي لفظونو ځانګړې په کارونه هم په ډېره موثر پېرايه کښې مشاهده کېدے شي او په دې ضمن کښې د پېزوان، نتکۍ، ټيک، جغاول، چارګل او اوګۍ د ذکر وړ دي خو په دغه ټولو کښې د قېس د اسلوب د ځانګړتيا په اړه پېزوان لفظ په خصوصي توګه د پاملرنې وړ دے چې د قېس په اسلوب کښې په کثرت مخې ته راغلے دے.

زما په دنګه پوزه کښې چې ځانګي بيا پرې ځانګه
که ښار ته دا ځل لاړې نو پېزوان درسره راوړه24

مونږ دا وئيلے شو چې قېس د فطرت د ښکلاء نه پس ورو ورو د انساني ښکلا اړخ ته ګرېز کوي خو دغه هر څۀ په يو خاص توازون د هغۀ په کلام کښې ځاے شوي دي او د کمال خبره دا ده چې دغه توازون د هغۀ د اسلوب نه هم ښکاره په نظر راځي. زرکې، د مرغو سېلونه، سپينه، پاغونده، پاغونده مخ، شنه لخته، ګل ګل ځواني، ګل بدن، ګل غوټۍ، ګل جانان، ګل فام، د مالوچو پاغونده، زرکه، خارو، سپوږمۍ، سروې، چينار، نښتر، دنګه پوزه، نتکۍ غوټۍ وغېره داسې لفظونه او ترکيبونه دي چې د هغۀ د اسلوب په عمومي تشکيل کښې مهم کردار لوبوي. او دغه هر څۀ چې بيا مونږ د ښکلا، حسن او ښائست سره په يو تسلسل کښې ګورو نو د قېس په اسلوب په اسانه پوهېدے شو ځکه چې يواځې د ښکلے، ښکلې او ښکلا او يا د دې هم معني لفظونه د قېس په کتاب کښې په درځنونه ځله استعمال شوي دي چې د هغۀ د اسلوب ځانګړتيا ته لاره سموي.

لکه لخته تکه شنه، ځي کړه وړه جينۍ
د مالوچو پاغونده، ښاپېرۍ ده ښاپېرۍ25

دوستۍ کښې خو دي سمې د مالوچو پاغوندې
دښمن ته خو بیا سم لکه د غر دي پښتانهٔ26

په تورو لاسو په شنو لختو تول تغمې تغمې وهٔ
زهٔ چې چمن ته نن د ګل لېدو له ووتمه27

ښکلا به د سیرت دې ساتي ښکلې تر ابده
صورت چې بې سیرته وي ښکلا د شګو کور دے28

دا څنګ ئې نظر ماتي له پرې اېښې په هنر دي
په سپینه پاغونده مخ د لیلی خالونه تور دي29

د زانې ژوند خو په سپلونو قطارونو کښې دے
سپکه شي ورکه شي چې کله خپل قطار پرېږدي30

نهٔ زرکه، نهٔ خارو ، نهٔ ګل سپوږمۍ کښې شته دا رنګ
مسکا د ځان په شان کوي او ځي د ځان په شان31

په دغه بره ذکر شوو شعرونو کښې چې د لفظونو دروبست، کارونه او تکرار په جار دا ګواهي ورکوي چې د اسلوب فقط د قبس کېدے شي د ذکر شوؤ لفظونو نه علاوه دوه نور توري د قبس په اسلوب کښې ډېر په کثرت سره موندے کېږي. چې په هغې کښې رڼا، رڼاګانې او سپین

لفظونه که یو خوا ډېر بلیغ او معني خېز دي نو بل خوا د قېس د شخصیت سره هم ژور تړون لري. دغه دواړه لفظونه د قېس د اسلوب د ځانګړي پېژندګلو برخه ده او د هغهٔ د اسلوب جمالیاتي بنیاد ئې نور هم مضبوط کړے دے.

زمـــــا د تصـــــــور د دنیاګـــــــانو رنګـــــــانې
زمـــــا نـــــه تــــل چـــاپېره وي يــــارانو رنګـــانې32

ګــرځم کــور پــه کــور پنــډ مــې پــه ســر د رنګــانو دے
راشــئ خلقــو واخلــئ بنجــاري رانــه جــوړ شــوے دے33

پــــه دې رواج کښـــې داســـې دي د پـــاکې مينـــې ســـاتل
لکـــه پــــه دوړو کښـــې چـــې وي ائينـــې ســـپينې ســـاتل34

د رنګـــــــــانو ترانـــــــــــې مـــــــــــــې ازده
زمـــــا پـــــه وړانـــــدې د تیـــــارو خـــــهٔ معنـــــې35

ظـــــــاهر دې ســـــــپين تـــــــک ســـــــپين
بـــــــاطن دې تـــــــور تـــــــک تـــــــور36

دغه رنګ د محمد حنیف قېس په دې مجموعه کښې دا سم تصغیر په کارونه هم دومره شوې ده چې د قېس د اسلوب ځانګړتیا هم ده او د پېژندګلو سوب هم دے. دا سم تعضیر دغه په کارونه هم ډېر معنوي او اهنګي ښکلا لري. د قېس په اسلوب کښې ئې نور زړهٔ راښکون او ښکلا پېدا

کړې ده. زړګے، زړګوتے، بچوړے، خسکے، څادرګے، کورکے، ځائیګے، مرګے، څټوکے، هډوکے، پنډوکے، لروکے، څټوکے، سروکے، خسوکے، بوجکۍ، مازیګرے او ستنکۍ د قېس په کتاب کښې بار بار په هنري پېرایه کښې تر سترګو کېږي او د اسم تضیر دغه کارونه د قېس د شعر اسلوب د خپلو هم عصرو شاعرانو نه جدا کوي. د دې سره سم د قېس په شعري اسلوب کښې د حروف نداء "یه "او "اے" کارونه هم د مقدار او معیار په لحاظ دومره ده چې د هغهٔ د اسلوب د ځانګړتیا برخه جوړېدے شي.

نـــــوم د کرونـــــدې د مینـــــې څـــــهٔ واخلـــــو
لاس کښـــــې بیـــــا د هـــــر ســـــړي لـــــروکے وي
غـــــواړي وس پګـــــړۍ د ســـــرداری هغـــــهٔ
ســـــر چـــــې ئـــــې لا ســـــر نـــــهٔ وي ســـــروکے وي
ونـــــې د چینـــــار ترېنـــــه چـــــاپېره دي
خبـــــر دے کـــــه قـــــېس خـــــس وي کـــــه خســـــوکے وي**37**

نـــهٔ پـــه تـــا د خنـــدا کرښـــې، نـــهٔ دې خلـــق پـــه ژړا کـــړهٔ
هســـې پـــټ پـــه کفانـــه شـــوې، دې مرګـــې تـــه مـــرګے وې
څـــهٔ خـــوي بـــوي ئـــې پکښـــې نشـــته خپلـــه لار ئـــې ده پرېښـــودې
تـــش څټـــوکے ئـــې ببـــر دے دې زمـــري تـــهٔ زمـــرے وې**38**

یـــه ســـواته ســـتا پـــه ښائســـتونو بانـــدې اور بلېـــږي
ســـتا حفاظـــت لـــه زهٔ یـــو څـــو، ملګـــري نـــهٔ مومـــه**39**

ځلمـــــي مـــو بـــې پـــرواه دي کـــه اودۀ دي اے يـــارانو!
زمـــــونږه کـــــار د دې راوېښــــــېدۀ دي اے يـــــارانو!40

شــــــوې د قــــــېس پښــــــې پســــــې مـــــاتې
يـــــه قســـــمته يـــــار ئــــــې کـــــوم دے41

د قېس په اسلوب کښې د علاقائي لهجې د ځانګړو تورو هنري کارونه هم د هغۀ ځانګړتيا ده لکه ښخ، جو، جوځۀ ښه ده نو وغېره. خو په اخر کښې د قېس د اسلوب په حواله د دوه نورو لفظونو ذکر ډېر ضروري دے او هغه يو لفظ "سوات" دے چې په ډېر تسلسل سره د قېس په کلام کښې موجود دے او د سوات دغه ذکر په دومره مقدار کښې د بل يو شاعر په کلام نشته څومره چې د قېس په شاعرۍ کښې موجود دے. او دغه د قېس د فطري ښکلا د تصوريت او ماروائيت حقيقي تکميل او عملي نمونه ده. دغه رنګ بل لفظ ښاپېرۍ ده چې په دومره ډېر مقدار کښې موجود دے چې قاري ورته خامخا په پام کولو مجبوره کېږي او دغه لفظ د قېس د انساني ښکلا او حسن د تصوريت او ماروايت ماروائي او مافوق البشر نمونه ده.

دا پتــــه چـــې برقـــــع کښــــې ښــــاپېرۍ ده د حيــــا
زمــــا د پښـــــتې شـــــملې دے شـــــان زمـــــا جانـــــان42

خـــــوږ خـــــوږ دي پـــــه رنګونــــــو د بــــــارودو ښـــــاپېري
مرګـــــوني شــــــو د ســــــوات د ښائســـــتونو ښـــــاپېري
اوتـــــر اوتـــــر چـــــې ځـــــي د ســــوات د غېـــــږې نـــــه بهـــــر
عـــــادت نـــــۀ وو هـــــيخ کلــــه د ورونــــو ښـــــاپېري43

ښاپېرۍ چرته دي قسمت د ښاپېرو مې کوم دے
خو هسې خيال د ښاپېرۍ ځان سره کورته راوړم**44**

د چينار لاندې تږے، سوے، لوے ناست ووم قېسه
د ښاپېرو سبلونه راغلل ښاپېرے ئې کړمه**45**

سواته ستا د اوړي غېږ د مېوؤ ډکه
خو ستا ژمې کښې جدا خوارۀ پراتۀ دي**46**

له ښکتې به کړې څۀ صفت د سوات ښائستونو
د هاغې سپنو غرونو سر له ورشه چې خبر شې**47**

دا څنګ ئې تۀ د سوات د ښکلاګانو محافظ
دا ونې خو ئې بيا په غر کښې مۀ وهه کنه**48**

سوات مې ډېر په وينو ولمبېد خاونده
ښۀ باران اوس د رحمت پکښې پکار دے**49**

اوس که د دغه شوې بحث او تجزيې په نتيجه کښې مونږ د قېس د اسلوب په ژبنيز انتخاب، د عموميت نه د ډډې، موثر اظهار او غېر معمولي لسانياتي کارونې په بنياد د قېس لفظياتي،نحوياتي، صوتياتي او معنوي اړخونه جدا کوو نو خبره نوره اوږدېږي خو رښتيا دا دي

د دغې تقسيم ضرورت موجود دے او يا که مونږ په دغه ځلورو بنيادونو د قېس په اسلوب کښې د دغه لفظونو، صوتياتو، نحوياتو او معنوياتو يو فهرست بيا د سر نه جوړ کړو کوم چې په مقاله کښې د اول نه تر اخر د شعرونو په حواله راوړے شو نو مونږ دا نتيجې تر لاسه کولے شو.

1. محمد حنيف قېس د پښتو ژبې صاحب اسلوب شاعر دے.
2. د حنيف قېس د اسلوب ځانګړتياوې د هغۀ پېژندګلو ده.
3. د قېس په اسلوب کښې د موجود صوتياتو، نحوياتو، لفظياتو او معنوياتو په بنياد دا خبره ثابته ده چې د هغۀ اسلوب جمالياتي اسلوب دے.
4. د قېس په اسلوب کښې د هغۀ پوره شخصيت متحرک په نظر راځي.
5. د قېس اسلوب په پښتو اسلوبياتو کښې د سوات د خالص اسلوب غوره نمونه او بنياد دے.

# حوالې


1. بحوالہ،رابعہ سرفراز،ڈاکٹر، اقبال کا شعری اسلوب،اسلام آباد،ادارہ فروغ قومی زبان،۲۰۱۲،ص۱
2. پښتو تشریحي قاموس اول ټوک،افغانستان، دعلومو اکېډیمي، ۲۰۱۲
3. دریاب،قلندر مومند او فریدصحرائي،این،ډبلیو،ایف، پي، ټېکسټ بک بورډ ، پېښور، ۱۹۹۴
4. رابعہ سرفراز،ڈاکٹر، اقبال کا شعری اسلوب،اسلام آباد،ادارہ فروغ قومی زبان،۲۰۱۲،ص۴
5. هم دغه
6. هم دغه
7. قېس، محمد حنیف ،چغچی،سوات،شعیب سنز پبلیشرز اینډ بکسیلرز، ۲۰۱۹، مخ۱۹
8. هم دغه،مخ۴۳
9. هم دغه،مخ۱۴۱
10. هم دغه،مخ۱۵۱
11. هم دغه،مخ۲۰
12. هم دغه،مخ۵۷
13. هم دغه،مخ۷۴
14. هم دغه،مخ۸۸
15. هم دغه،مخ۸۴
16. هم دغه،مخ۱۰۵

17.هم دغه،مخ۱۱۰

18.هم دغه،مخ۱۱۵

19.هم دغه،مخ۳۱

20.هم دغه،مخ۲۱

21.هم دغه،مخ۱۷۶

22.هم دغه،مخ۱۹۴

23.هم دغه،مخ۱۹۴

24.هم دغه،مخ۱۴

25.هم دغه،مخ۲۰

26.هم دغه،مخ۱۳۷

27.هم دغه،مخ۱۵۸

28.هم دغه،مخ۱۶۴

29.هم دغه،مخ۱۷۶

30.هم دغه،مخ۱۸۹

31.هم دغه،مخ۱۹

32.هم دغه،مخ۱۳

33.هم دغه،مخ۱۲۹

34.هم دغه،مخ۲۴

35.هم دغه،مخ۳۹

36.هم دغه،مخ۵۶

37.هم دغه،مخونه۱۰۷، ۱۰۶

38.هم دغه،مخ۸۷

39.هم دغه،مخ۹۶

40.هم دغه،مخ۶۸
41.هم دغه،مخ۶۱
42.هم دغه،مخ۶۵
43.هم دغه،مخ۱۲۰
44.هم دغه،مخ۱۳۹
45.هم دغه،مخ۱۳۸
46.هم دغه،مخ۳۱
47.هم دغه،مخ۵۸
48.هم دغه،مخ۷۷
49.هم دغه،مخ۱۰۴